# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Ideological | مسائل ایدئولوژیک |
|---|---|



درویش وردک

۰۳ جنوری ۲۰۱۷

## دوه شپیتم مجلس( په توحید کی)

### لومړی برخه

دجمعی په ورځ سهار د ۵۴۵ هجری قمری کال درجب دمیاشتی په آخره ورځ شیخ عبدالقادرگیلانی(قدس الله سره العزیز) په مدرسه کی داسی وفرمایل: حق داسی په یګانګی(یووالی ) سره وستایه چی نورپه خلکو دتکیی یوه ذره هم ستاپه زړه کی پاته نشی، نه خپل کوروونی، نه خپل ښاراوکلی وپیژنی، ځکه توحید ټولی اړیکی پریکوی. دټولو دردونو دوادحق دذات په  توحید اویګانګی اوددنیا دچیچونکی مار ځخه په لیری والی اواعراض کی پرته ده. ددنیا ددی خطرناک مارځخه وتښته، ترڅوچی یوماهرمارګیرپیداشی اوددی مارغابنونه پڅ اودشرسمن یی بی اغیزی کړی، اوتاهم ددی زیان رسوونکی زهروځخه خبرکړی، په هغه حال کی که ورته نیږدی شوی نو ستا دچیچلو توان به ونلری.

که خدای دربادی ګران وی، نوته به هم په خدای ګران وی، اودغه دوستی به دی ددنیا اوشهوتونو اولذتونو اوشیطانتونو ځخّ محفوظ وساتی، اودهغی په تبع به قادروی چی خپلی برخی پرته له ضرره تری لاس ته راوړی. ای بی شاهده مدعی! خومره دتوحید ادعالری، پداسی حال کی چی اعمال دی ستا په شرک کولو دلالت کوی.

که کولای شی یوه شپه زما سره دباندی ووزه، ترڅو ویرونکوځایو ته لاړشو، زه پرته له وسلی اوته له وسلی سره، هغه وخت بیا وګوره چی زه ډارېږم اوکه ته؟ کوم یو به دبل په جامو کی پټ شو، ته په نفاق سره لوی شوی یی،اوزه په ایمان سره تربیت شوی یم.

(ای قومه) تاسو په دنیاپسی لالهانده یاست، ترڅو یوه لړګته ترلاسه کړی، ولی یوه شی چی دنیا دخدای په مردانوپسی ځغلی، ترڅو ددوی دوجود ځخه یوڅه برکت ترلاسه کړی، دنیا داولیاءالله پروړاندی په پښو ولاړه اوسرټیټی ده. راځئ په میرانه سره دنفس سر دتوحید په توره غوځ کړی، اودهغی دمقابلی لپاره دتوفیق خولی، دمجاهدت سنان(آس) اودتقوی سپر اودیقین توره په لاس کی ونیسو اوهغه مات کړو، دغه روش ترهغی ادامه ورکړی ترڅو کاملا رام اوستاسو په لاسو کی اسیرشی اوپه هغی سپورشی، پری یی په لاس کی ونیسی، اوهغه هرځای ته په سفرکی په مطمئن زړه باندی ترګټی لاندی ونیسی. پداسی حال کی دی چی عزّوجلّ خدای ددغسی بندګانو په وجود مباهات کوی.

بیا له هغوکسانو چی دنفس اسیران دی اوتراوسه یی تری خلاصون ندی موندلی ، مخکی شی. هرچاچی خپل نفس

وپیژانده اوپه هغی لاس بری شو، نفس به دده مرکب شی، درانده بارونه به یی وړی، اوله فرمان څخه یی سرغړونه نکوی.
ترڅوچی دخپل نفس په پیژندنه توفیق ترلاسه نکړی، اوله مزو څخه یی لیری ونه ساتی، اوحق یی څرنګه چی ښایی په لاس کی ورنکړی، تاته دکتی تمع نشی کیدای. اوکه دی داسی وکړل پدی حال کی نفس په داډ سره دزړه سره یوکیږی، اوزړه هم له سِراوباطن سره یوکیږی، اوسراوباطن هم دحق لوری ته په لاره کیږی. هوښیاراوسه، هیڅکله دمجاهدت سوټی دنفس له سره مه ایسته کوه، دده مکراوحیلی ته، خوب ته تګ یی، فریفته اومغرورنشی، دنفس سره په مبارزه کی غفلت داسی دی لکه چی سړی یو ځیرونکی حیوان په خوب کی وید وګوری اوفکر وکړی چی په رینښتیا ویده دی، اوپوه نشی چی ځان یی په خوب وهلی ترڅویوښکارپیداکړی اوویی ځیری، دغه نفس هم دخواری اوتواضع اظهارکوی، ولی همداچی موکه یی وموند، دباطن نیش یی ښکاره کیږی، پس باید تل یی له کیده باخبره اوسی.
داولیاءالله قوم دخلکوسره سراوکارلری، ددوی سره ناسته پاسته کوی، اودا دمعروف امر په ترسره کولو اوله منکرڅخه په ځان ساتلو کی دی. داولیاء مثال دخلکوسره په داسی اړیکه دی، که یوه ډله دپادشاه دلیدو تکل وکړی اوددی امرترسره کولو لپاره باید له دریابه تیرشی، ځینی چی په لاره بلد دی په آسانی سره کولای شی تیرشی، اودملک دیدارته ورسیږی، اوکله چی ملک دهغو له حاله چی په لاره کی پاته دی اودتیریدو ځای نه وینی، خبرشی! نوهغوی چی په یدار بریالی شوی، پدی ګماری چی لاړ شی اوهغه نورهم راهنمایی کړی، دوی هم دپادشاه امراطاعت کوی اوراګرځی اودرود دغاړی ورک شویو ته راهنمایی کوی اودملک دیدارته یی رسوی، په دی هکله دعزّوجلّ خدای قول واوری: (وَقَالَ الَّذِی آمَنَ یاقَوْمِ اتَّبِعُونِ اَهْدِکُمْ سَبِیلَ الرَّشادِ)-«هغه چی ایمان یی راوړی وویل: ای قومه زما پیروی وکړی ترڅو تاسو دخلاصون لاری ته هدایت کړم. سوره غافر آیه ۳۸».
هوښیارانسان ددنیا په مال ، زند اوفرزند اوپه جامو اوموکولاتو اونورو سینګارونو زړه نه تړی، ځکه هغوی ته علاقه دنفس اوهوا څخه ګنی. دمومن شادی دایمان اویقین په قدرت اودحق دقرب باب ته دزړه به وصول کی ده. خبراوسی، ددنیا رینښتینی واکمنان اودآخرت واقعی مقربان همدوی دی چی دعزّوجلّ خدای رینښتینی پیژندونکی ، مطیع اوفرمانبرداره دی.
(ای دخدای بنده) څرنګه کیدای شی چی زړه اوباطن دصفایی ومومی، پداسی حال کی چی په خلکو دتکیی شرک په زړه کی لری؟ څرنګه به وژغورل شی؟ پداسی حال کی چی هره شپه یوکس ترسترګوکوی چی سبابه یی خواته ورځی اودسوال اوتوقع لاس به ورته غځوی؟ کله چی په زړه کی دی یوه ذره توحید شتون ونلری، څرنګه دصفا انتظارلری؟ نه پوهیږی چی توحید نوردی، اوشرک تیاره، خلق ستا اوخالق ترمنځ حجاب ګرځیدلی، له مسببه څخه لیری یی، اولاسونه دی په ظاهری اسبابو کی اچولی،په خلکو ثقت اواطمینان له توکل څخه لیری کړی یی، دتوحید اوتوکل دعوه کوی، ولی دغه ادعا دی پرته له بنسته اوپرته له شاهده ده،دغه ادعا په دوه صورته داثبات وړده، یوپه مجاهدت اودرنځ اوکړاو زغملو سره چی دصلحاو ترمنځ متداوله ده، اوبل الهی موهبت دی چی په ندرت سره دچا دحال شاملیږی، چی پرته له رنځه اوزحمته مقام ته رسیږی، پدی صورت کی دحق دعنایت لاسونه هغه دکړی لاری راګرځوی، اوجومات ته یی راهنمایی کوی، پرخلکو دتکیی کولو حس یی له منځه وړی، هرڅه چی ګوری له هغی پند اخلی، هرڅه چی واوری په هغی متعظ کیږی، عمل نکوی مګردقرب دترلاسه کولو په خاطر، اوبالاخره دحق هراړخیزه هدایت اوعنایت یی دحال شاملیږی، همداسی چی عزّوجلّ خدای دیوسف علیه السلام په هکله فرمایلی :

(کَذالِکَ لِنَصرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشاءَ، اِنَّهُ مِنْ عِبَادنَآ الْمُخْلِصِینَ)-«دغسی بدی اوفحشامو له هغی لیری کړه، دی زمونږدمخلصوبندګانوڅخه دی. سوره یوسف. آیه ۲۴».

دخدای دوستدار اوپه حق باندی عارف په بیلابیلو ډولونو سره خلکو ته پند ورکوی، کله په وینا، کله په رفتار، اوکله هم دباطن په همت چی څوک یی په درکولوخبرندی.

(ای دخدای بنده) لازمه ده چی دایمان دکمزورتیا په وخت، ځان خپل ځانته ځانګړی کړی، له زن اوفرزند اوګاونډی اودکورکلی سره پریکړون وکړی اوپه ځان لاس پوری کړی، هرکله که قوی ایمان ته ورسیدی، بیاکولای شی دزن اوفرزند اونورو ترمنځ حاضرشی، البته هغه وخت چی دخلکو سره مخالطت درته زیان ونه رسوی چی دتقوی په جامو سمبال اودایمان خولی په سر ولری اوپه لاسونو کی دی توحیداوپه لیندی کی دی ددعا ادجابت غیشی وی، اوپخپله دتوفیق په آس سپور اودخدای له دښمنانوسره په مبارزه لاس پوری کړی، ډاډه اوسه په دی صورت کی به دحق یاری اونصرت  له هرلوری ستا خواته راځی، اوته به وتوانیږی چی خلک دنفس دشیطان له لاسونو وژغوری اودحق باب ته به یی راهنمایی کړی، نوربه دحق داوامرپه ترسره کولو وګماری، اوله منهیاتوبه مخنیوی وکړی، اوداپه دی سبب دی چی تاپه ښه توګه دوزخ اوجنت پیژندنلی اودهغوی  داهل له اعمالو خبریی، هرڅوک چی دی مقام ته ورسید، دزړه ټول حجابونه به یی لیری شی، اوپه دی حال کی که زړه پورته وګوری، عرش اوآسمانونه به وینی، اوکله که سترګی کته واچوی نو دځمکی ټولی طبقی به دهغوی له ساکنینوکه انس وی که جن وګوری، اودا دایمان اومعرفت الله په سبب دی، چی په علم اوحکم سره منځ ته راغلی، هرکله که دی مقام ته ورسیدی خلک دحق باب ته دعوت کړه، اوکه خپله مخکی دی باب ته نه وی رسیدلای، ستا بلنه به اثرونلری. پرته ددی مقام له حصول څخه که هرخوځښت وکړی، اوهره غوښتنه که وکړی په واقع کی دعمرتضییع ده، ځکه دصالحینو له اعمالو بی خبره یی، ته ژبوریی، اوژبه پرته له زړه، ظاهرپرته له باطنه، جلوت پرته له خلوته، متحرک پرته له مهابته، توره دی دلرګی ده، اوغیشی دی دکبریت لرګی دی، ته ډارن یی اوله شجاعت څخه لیری، یووړ غیشی(بلا) به دی هلاکت ته ورسوی.

و«آتنافی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار»آمین

نوربیا....